عبدالرحمن فرقاني ۲۰۰۹/۱۱/۲۰

# فسـاد د فسـاد په وړاندي مبارزه کوي

## د الحیاة اللندنیه ورځپاني څخه ژباړه

نن په هغه هیواد کی چی سیاسي چاپیریال یی د هر ډول احتمالاتو په واوړندي پرانیستی دي ، حامد کرزي د دویم ځل لپاره د ولسمشرئ لوړه پخای کوي ، پداسي حال کی چی لودیځ له یو ښکاره کړکیچن وضعیت سره لاس ګریوان دي او پرته له یوی کرغیړنی پایله څخه بل چانس هم نلري ، او امریکا او د ناټو قوتونه له دي کړکیچ څخه چی د تیری شوي اداری د غلطی کړنلاری په پایله کی ورسره لاس ګریوان شوي په ګړنده توګه د خلاصون لاره ګوري ، پدی هکله غواړي افغاني قوتونو ته نظامي واك وسپاري ، خو متاسفانه چی د لودیځ په وړاندي په افغانستان کی یو په فساد متهم ولسمشر شتون لري او د دوم ځل د ټاکنو پایله یی هم تر شك لاندي ده او سره لدي ورڅخه غواړي چی د فساد مخنیوي وکړي ، عجیبه او د خندا وړ خو دا ده چی احمدي نجاد د افغانستان په هکله د روغي جوړي وړاندیز وکړي ، چی په خپله یی د ایران ولسمشري ته انتخابیدل شکمن دي ، داسي ښکاري چی د افغانستان د سیاسي او ټولنیز ثبات او استقرار لپاره د کوم درس ورکول غواړي .

سره لدي چی ایران د افغانستان سره د پراخه سرحد په اساس او د مذهبي او ژبنیز او تاریخي تړاو له مخي خپل مصلحتونه لري ، او هغه ناوړه اثر چی د کوکنارو له کرنه څخه ورسره مخ دي ( دوه ملیونه ایراني معتادان ) داسي ښکاري چی د افغانستان په خلاصون کی له خپلی هغی مخ په ودي کشالي څخه د وتلو فرصت ګوري , په داخل کی لا تر اوسه د تزویر تورونه دولت ته متوجي دي ، او د مخالفو سیاسي پاځونونو ځپل هم جریان لري او انقسام هم دیر ژور شوي دي .

دوم د لودیځ سره هم د اتمي کشالی په هکله د اقتصادي بندیزونو وړاندیز ورځ تربلی په لودیځ هیوادونو کی وده مومي اوپه نړیواله کچه قبولیت پیدا کوي ، همداراز ایران غواړي چی دیمن د کشالی په هکله د وتلو لاره پیدا کړي، وروسته لدي چی د عربستان له غوڅ دریځ سره مخ شو، او وروسته لدي چی ټول عربي هیوادونه د سعودي عربستان ملګري شول چی د حوثینو په وړاندي د خپلی خاوري څخه دفاع وکړي ، آن تر دی چی سوریه چی د ایران استراتیژیك ملګري هیواد هم د سعودي عربستان په څنګ کی ودرید.

دوي ورځي وړاندي یوي لندني ورځپاني په ډاګه کړه چی د انګلستان وزارت دفاع محلي قومندانانو ته لارښونه کړي تر څو افغانانو ته رشوت ورکړي چی د طالبانو سره د یوځاي کیدو مخه یی ونیول شي طالبان د ورځي لس دالر نویو جنګیالیو ته ورکوي , او پدي هکله ویل شوي دي چی د مقاومت په وړاندي جګړه نه بلکی د پیسو او د سرو زرو د بوجیو څخه کار اخیستل ضروري دي تر څو په امنیتي وضعیت کی بدلون راشي او همدا کړنلاره احمدي نجاد د خپل ملت سره خپله کړي وه ، ده په یوویشتمه پیړی کی د فقر سره د مبارزی لپاره دیره نادره تګلاره خپله کړي او په کلیوالو سیمو کی یی په خپلو وطندارنو پیسي و ویشلي ، لکه چی د خلکو رایی یی اخیستي وي او همدا لامل وه چی د ایران پیسی خپله بیه له لاسه ورکړه او دیره ټیټه شوه.

خو امریکایان چی له یو داسي اقتصادي کړکیچ سره مخ شول چی په تاریخ کی ساری نلري , هغه شرکتونه او مالي موسسي چی په بلینو دالره خیالي ګټي به یی کولي په ګړنده توګه لمنځه ولاړلي , دوي هم د افغانانو د اخیستلو لاره غوره کړله څرنګه یی چی په عراق کی وکړل , هغه خبري اتري چی په افغانستان کی د دیموکراسي د پلي کولو په هکله په امریکا کی کیږي په ډاګه کوي چی هر یو امریکایی جنګیالی کی چیري ژوندي پاتي شي په کال کی یو ملیون دالر لګښت لري , او د څلوییښت زرو نویو عسکرو لیږل افغانستان ته دا معنی لري چی د امریکا په هغه بودیجه کی چی د افغانستان د جګړی لپاره ځانګړی کیږي څلوییښت بلیونه دالر اضافه شي , پداسي حال کي چی دیر امریکایان هغه مالیه نه مني چی د اوباما د نوي صحي قانون په پایله کی په دوي حواله کیږي , که چیري فقر د جګړي لامل دي څرنګه چی ۷۰ په سلو کی افغانان پدي عقیده دي , نو یو ساده حساب په ډاګه کوي چی امریکایانو او لودیځ چی کوم لګښت د ۲۰۰۱ څخه تر اوسه په افغانستان کی کړي د ټول افغان ملت د ((رشوت)) لپاره کافي و حتی چی د افغانستان ګاونډیانو ته هم کفایت کوي .



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.